د اسلامي عقيدې زده کړه

درېيمه برخه

توحيد څه دی؟ د الله تعالی د يووالي حقيقت، ډولونه او دلايل

ليکوال: محمد شريف (صداقت)

تاريخ: ۱۴۰۵/۸/۲۰

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish



له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سریزه

گرانو لوستونکو!

د دې لړۍ په دویمه برخه کې مو د دین، عقیدې، اسلام، ایمان او احسان لغوي او اصطلاحي مفاهیم، د هغوی خپلمنځي اړیکې او د اسلامي ژوند په جوړښت کې د هغوی ارزښت وڅېړه .په دې برخه کې د هماغو بنسټیزو مفاهیمو د دوام په توګه د اسلامي عقیدې تر ټولو مهم اصل، یعنې توحید پېژنو.

توحید د اسلام د عقیدې بنسټ، د ټولو پیغمبرانو د دعوت محور او د انسان د پیدایښت له سترو موخو څخه دی .الله تعالی انسانان بې‌موخې نه دي پیدا کړي؛ بلکې د خپل عبادت لپاره یې پیدا کړي دي .عبادت هغه حق دی چې باید یوازې الله تعالی ته ځانګړی شي او هېڅ مخلوق ورسره په دې حق کې شریک نه شي.

الله تعالی فرمایي:

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ.

ژباړه :او په یقین سره مونږ په هر امت کې یو رسول لېږلی و، چې) خلکو ته یې ویل :(د الله عبادت وکړئ او له طاغوت څخه ځان وساتئ) .النحل :٣٦(

دا آیت څرګندوي چې د ټولو پیغمبرانو د دعوت اساسي پیغام یو و :یوازې د الله تعالی عبادت کول او له هر هغه څه څخه ځان ساتل چې د الله تعالی پر ځای عبادت کېږي یا د هغه د حکم پر خلاف د اطاعت او بندګۍ مقام ورکړل کېږي.

په دې برخه کې به لومړی د توحید لغوي او شرعي تعریف، حقیقت، اهمیت او ډولونه په عمومي توګه وپېژنو؛ خو د توحید د ربوبیت، الوهیت او اسماء او صفاتو تفصیلي دلایل، مسائل او اړوندې مسئلې به په راتلونکو برخو کې په خپل وار او جلا توګه وڅېړو.

لومړی بحث :د توحید لغوي او اصطلاحي تعریف:

الف ـ د توحید لغوي تعریف

توحید د» وَحَّدَ يُوَحِّدُ تَوْحِيدًا «له مادې څخه اخیستل شوی دی.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ابن فارس رحمه الله د» وحد «د مادې په اړه ليکي:

الْوَاوُ وَالْحَاءُ وَالدَّالُ :أَصْلٌ وَاحِدٌ يَدُلُّ عَلَى الْانْفِرَادِ.

ژباړه :واو، حاء او دال يو داسې بنسټيز اصل دی چې پر يوازيتوب او بې‌ساريتوب دلالت کوي.

ابن منظور رحمه الله د» وحد «د مادې په بيان کې ليکي:

وَالتَّوْحِيدُ :الْإِيمَانُ بِاللَّهِ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ.

ژباړه :توحيد دا دی چې پر الله تعالی ايمان راوړل شي، په داسې حال کې چې هغه يو دی او هېڅ شريک نه لري.

له دې لغوي څرګندونو څخه پوهېږو چې توحيد د يو شي يوازينی ګڼلو، د هغه د يووالي د اثبات او له شريک څخه د هغه د پاک ګڼلو معنا لري.

ب ـ د توحيد شرعي تعريف

شيخ محمد بن صالح العثيمين رحمه الله د توحيد لپاره دوه تعبيرونه راوړي دي:

التَّوْحِيدُ هُوَ إِفْرَادُ اللَّهِ بِالْعِبَادَةِ.

ژباړه :توحيد دا دی چې الله تعالی په عبادت کې يوازې وګڼل شي.

او په پراخه معنا يې داسې تعريفوي:

إِفْرَادُ اللَّهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى بِمَا يَخْتَصُّ بِهِ.

ژباړه :توحيد دا دی چې الله سبحانه وتعالی په هغو ځانګړتياوو کې يوازينی وګڼل شي چې يوازې د هغه ځانګړتياوې دي

د دې تعريفونو له مخې، توحيد يوازې دا نه دی چې انسان ومني الله تعالی يو خالق دی؛ بلکې دا هم اړينه ده چې د عبادت ټول ډولونه يوازې هغه ته ځانګړي کړي، د هغه نومونه او صفتونه په هغه ډول ومني چې په قرآن او صحيح سنتو کې راغلي دي، او په هغو ځانګړتياوو کې هېڅوک ورسره شريک ونه ګڼي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نو توحيد د الله تعالى د يووالي پېژندل، د هغه د حقونو منل او په عقيده، وينا او عمل کې د هغه د يووالي پر غوښتنو عمل کول دي.

دويم بحث :توحيد د ټولو پيغمبرانو د دعوت بنسټ دی

الله تعالى فرمايي:

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ.

ژباړه :او په يقين سره مونږ په هر امت کې يو رسول لېږلی و، چې) خلکو ته يې ويل د الله عبادت وکړئ او له طاغوت څخه ځان وساتئ) .النحل :٣٦

د آيت مهم پيغام دا دی چې الله تعالى د هر امت د لارښوونې لپاره رسول رالېږلی و او د هغوی د دعوت بنسټ يې د الله تعالى يوازينی عبادت او له طاغوت څخه ډډه کول وو.

په دې آيت کې د» اعْبُدُوا اللَّهَ «امر د الله تعالى د عبادت غوښتنه کوي، او وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ د هر هغه معبود او باطلې لارې څخه د لرېوالي غوښتنه کوي چې د الله تعالى پر ځای د عبادت او ناروا اطاعت مقام ورکړل شي.

د پيغمبرانو په شريعتونو کې ځينې عملي احکام او فرعي مسائل له يوه امت څخه بل امت ته توپير درلود؛ خو د توحيد بنسټيز اصل يو و :عبادت يوازې د الله تعالى حق دی.

الله تعالى د نوح، هود، صالح او شعيب عليهم السلام د دعوت په اړه فرمايي:

لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ.

ژباړه :يقيناً مونږ نوح خپل قوم ته ولېږه؛ نو هغه وويل :اې زما قومه !د الله عبادت وکړئ، له هغه پرته تاسو هېڅ بل معبود نه لرئ) .الأعراف :٥٩(

د هود، صالح او شعيب عليهم السلام په دعوت کې هم همدا پيغام تکرار شوی دی) .الأعراف :٦٥، ٧٣، ٨٥(

دا تکرار مونږ ته ښيي چې د ټولو پيغمبرانو د دعوت اصلي موخه د الله تعالى يووالی او د هغه د عبادت ځانګړي کول وو.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د فکر وړ پوښتنه :ولې د پیغمبرانو دعوت د الله تعالی په عبادت پیل کېده؟

ځواب :ځکه چې د انسان د ژوند تر ټولو ستر حق د هغه د خالق عبادت دی .کله چې انسان د خپل خالق حق وپېژني، نو د خپل ژوند موخه، د بندګۍ حقیقت او د نېکمرغۍ لاره هم پېژني.

د طاغوت لغوي او اصطلاحي مفهوم:

د طاغوت کلمه د» طغی «له مادې څخه اخیستل شوې ده، چې د حد له اوښتو او له ټاکلي برید څخه د تېرېدو معنا لري.

ابن القیم رحمه الله د طاغوت په اصطلاحي تعریف کې لیکي:

الطَّاغُوتُ :مَا تَجَاوَزَ بِهِ الْعَبْدُ حَدَّهُ مِنْ مَعْبُودٍ أَوْ مَتْبُوعٍ أَوْ مُطَاعٍ.

ژباړه :طاغوت هر هغه معبود، پیروي کېدونکی یا اطاعت کېدونکی دی چې بنده د هغه په اړه له خپل شرعي حد څخه واوړي) .۴(

د دې تعریف له مخې، طاغوت یوازې د بت یا هغه شي نوم نه دی چې په ښکاره عبادت یې کېږي؛ بلکې د طاغوت مفهوم د هغو معبودانو، پیروي کېدونکو او اطاعت کېدونکو په اړه هم کارول کېږي چې د الله تعالی له ټاکلي حد څخه پورته مقام ورکړل شي.

د ښلګې په توګه:

معبود :هغه څوک یا شی چې د الله تعالی پر ځای یې عبادت کېږي.

متبوع :هغه څوک چې د الله تعالی د لارښوونې پر خلاف په باطل کې یې پیروي کېږي.

مطاع :هغه څوک چې د الله تعالی د حکم پر خلاف په ناروا چارو کې یې اطاعت کېږي.

البته د دې معنا دا نه ده چې د هر انسان پیروي یا اطاعت طاغوت دی؛ د مور او پلار، ښوونکي، عالم او مشر په روا او مشروع چارو کې اطاعت د طاغوت عبادت نه دی .د دې تعریف موضوع هغه اطاعت او پیروي ده چې د الله تعالی له حکم سره په ټکر کې وي او انسان ته د هغه له شرعي مقام څخه پورته مقام ورکړل شي.

الله تعالی فرمایي:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انْفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ.

ژباړه :نو څوک چې له طاغوت څخه انکار وکړي او پر الله ایمان راوړي، یقیناً یې داسې کلکه کړۍ نیولې ده چې پرې کېدونکې نه ده؛ او الله ښه اوربدونکی او ښه پوه دی) .البقرة :٢٥٦(

د آیت پیغام دا دی چې د توحید تحقق یوازې پر الله تعالی ایمان راوړلو پورې محدود نه دی؛ بلکې له طاغوت څخه د انکار او ځان ساتلو غوښتنه هم ورسره ترلې ده .مؤمن باید عبادت یوازې الله تعالی ته ځانګړی کړي او د هغه د حکم پر خلاف د بل چا د واکمنۍ او بندګۍ مقام ونه مني.

دریم بحث :د انسان د پیدایښت موخه د الله تعالی عبادت دی

الله تعالی فرمایي:

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ.

ژباړه :ما پېریان او انسانان یوازې د دې لپاره پیدا کړي دي چې زما عبادت وکړي) .الذاریات :٥٦(

دا آیت د انسان د پیدایښت یوه سترە موخه بیانوي .الله تعالی په ځرګنده فرمایي چې د پېریانو او انسانانو پیدایښت یې د خپل عبادت لپاره کړی دی.

د آیت له مخې عبادت یوازې د ځینو ظاهري مراسمو نوم نه دی؛ بلکې د الله تعالی د بندګۍ، اطاعت، مینې، عاجزۍ او فرمان منلو پراخ مفهوم لري.

د عبادت په اړه باید دوه خبرې په پام کې ونیسو:

لومړی :عبادت د الله تعالی حق دی؛ ځکه هغه زموږ خالق، مالک او پالونکی دی.

دویم :الله تعالی زموږ عبادت ته اړتیا نه لري .موږ د هغه عبادت ته اړتیا لرو؛ ځکه زموږ نېکمرغي، د دنیا او آخرت بریا او د الله تعالی رضا د هغه په بندګۍ کې ده.

الله تعالی فرمایي:

وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ژباړه :او هغوی ته له دې پرته بل څه امر نه و شوی، مګر دا چې د الله عبادت وکړي، په داسې حال کې چې دین یوازې هغه ته ځانګړی کړي، د باطل له لارو څخه حق ته مایل وي، لمونځ قائم کړي او زکات ورکړي؛ او همدا د سم او ثابت دین دی) .البینة :۵(

په دې آیت کې د عبادت ترڅنګ د اخلاص یادونه شوې ده .دا څرګندوي چې یوازې د عبادت ظاهري بڼه بسنه نه کوي؛ بلکې عبادت باید د الله تعالی لپاره، په اخلاص او د هغه د دین مطابق ترسره شي.

څلورم بحث :د الله تعالی حق پر بندګانو:

رسول الله صلی الله علیه وسلم د توحید اهمیت په یوه ستر حدیث کې بیان کړی دی.

له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی:

كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حِمَارٍ يُقَالُ لَهُ عُفَيْرٌ، فَقَالَ :يَا مُعَاذُ، هَلْ تَدْرِي حَقَّ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ، وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ؟ قُلْتُ :اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ .قَالَ :فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا .قُلْتُ :يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَلَا أُبَشِّرُ النَّاسَ؟ قَالَ :لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا.

ژباړه:

معاذ بن جبل رضي الله عنه وایي :زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پر یوه خره سپور وم چې عُفَیر نومېده .رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل :اې معاذه !ایا پوهېږې چې د الله تعالی حق پر خپلو بندګانو څه دی او د بندګانو حق پر الله تعالی څه دی؟

ما وویل :الله او د هغه رسول ښه پوهېږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :د الله تعالی حق پر بندګانو دا دی چې یوازې د هغه عبادت وکړي او هېڅ شی ورسره شریک نه کړي؛ او د بندګانو حق پر الله تعالی دا دی چې هغه څوک عذاب نه کړي چې له هغه سره هېڅ شی شریک نه کړي.

ما وویل :اې د الله رسوله !ایا خلکو ته دا زېرى ورنه کړم؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هغه وفرمایل :خلکو ته دا زېرى مه ورکوه، هسې نه چې پر همدې تکیه وکړي او عمل پرېږدي) .صحیح البخاري :٢٨٥٦؛ صحیح مسلم :٣٠(

دا حدیث د توحید ستر مقام څرګندوي .رسول الله صلى الله علیه وسلم د الله تعالى حق داسې بیان کړ چې بندګان باید یوازې د هغه عبادت وکړي او له هغه سره هېڅ شی شریک نه کړي.

په حدیث کې د بندګانو لپاره د الله تعالى د رحمت زېرى هم شته؛ خو رسول الله صلى الله علیه وسلم د دې وېرې له امله چې خلک به پر دې زېرې تکیه وکړي او نېک عملونه به پرېږدي، د دې زېرې له عامولو منع وکړه.

له دې څخه څرګندېږي چې توحید د ایمان بنسټ دی، خو د توحید ادعا باید د الله تعالى د اطاعت او د هغه د رسول صلى الله علیه وسلم د لارښوونې په پیروی کې عملي بڼه هم ولري.

پنځم بحث :د توحید د درېیو ډولونو شرعي بنسټ او دلیل:

علماوو د قرآن کریم او صحیح سنتو د دلایلو په څېړلو او استقرا سره د توحید موضوع په درېیو مشهورو برخو وېشلې ده:

١ ـ توحید ربوبیت

٢ ـ توحید الوهیت

٣ ـ توحید اسماء او صفات

دا وېش د علماوو له خوا د شرعي نصوصو د معناوو او موضوعاتو د څېړنې پر بنسټ شوی دی؛ یعنې د قرآن کریم او سنتو بېلابېل آیتونه او احادیث یې څېړلي او د توحید اړوند مطالب یې په درېیو برخو کې تنظیم کړي دي .دا په دې معنا نه ده چې د توحید دغه درې نومونه په همدې ترتیب په یوه ځانګړي حدیث کې راغلي دي.

شیخ محمد الأمین الشنقیطي رحمه الله د دې وېش د شرعي بنسټ په اړه لیکي:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وَقَدْ دَلَّ اسْتِقْرَاءُ الْقُرْآنِ الْعَظِيمِ عَلَى أَنَّ تَوْحِيدَ اللَّهِ يَنْقَسِمُ إِلَى ثَلَاثَةِ أَقْسَامٍ :الْأَوَّلُ :تَوْحِيدُهُ فِي رُبُوبِيَّتِهِ، وَالثَّانِي :تَوْحِيدُهُ جَلَّ وَعَلَا فِي عِبَادَتِهِ، وَالثَّالِثُ :تَوْحِيدُهُ جَلَّ وَعَلَا فِي أَسْمَائِهِ وَصِفَاتِهِ.

ژباړه :د قرآن کریم استقرایي څېړنې څرګنده کړې ده چې د الله تعالی توحید په درېیو برخو وېشل کېږي : لومړی، په ربوبیت کې د هغه یووالی؛ دویم، په عبادت کې د هغه یووالی؛ او درېیم، په نومونو او صفتونو کې د هغه یووالی) .۵(

د توحید د دې وېش یو ډېر جامع قرآني دلیل د مریم سورت په ٦٥م آیت کې راغلی دی.

الله تعالی فرمایي:

رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا.

ژباړه :هغه د اسمانونو، ځمکې او د هغو ټولو شیانو پالونکی دی چې د دواړو ترمنځ دي؛ نو یوازې د هغه عبادت وکړه او د هغه په عبادت کې ټینګ او زغمناک اوسه .ایا ته د هغه کوم سیال او هم‌نومی پېژنې؟)مریم :٦٥(

د دې آیت په الفاظو کې د توحید درې واړه اړخونه په څرګنده توګه لیدل کېږي:

لومړی :د توحید ربوبیت

الله تعالی فرمایي:

رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا.

ژباړه :هغه د اسمانونو، ځمکې او د هغو ټولو شیانو پالونکی دی چې د دواړو ترمنځ دي.

دا برخه د الله تعالی ربوبیت بیانوي؛ ځکه هغه د ټولو اسمانونو، ځمکې او د هغو ترمنځ د ټولو مخلوقاتو خالق، مالک او پالونکی دی .په دې کایناتو کې هېڅ مخلوق له الله تعالی پرته خپلواک خالق او مدبر نه دی.

دویم :د توحید الوهیت

الله تعالی فرمایي:

فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ژباړه :نو یوازې د هغه عبادت وکړه او د هغه په عبادت کې ټینګ او زغمناک اوسه.

دا برخه د عبادت ځانګړې کولو ته اشاره کوي؛ یعنې هغه ذات چې د ټولو کایناتو پالونکی دی، یوازې هماغه د عبادت مستحق دی .له همدې امله عبادت باید یوازې هغه ته ځانګړی شي.

دریم :د توحید اسماء او صفات

الله تعالی فرمایي:

هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا.

ژباړه :ایا ته د هغه کوم سیال او همنومی پېژنې؟

دا برخه د الله تعالی د بېساریتوب، بېسیالهوالي او ځانګړې مقام څرګندونه کوي .د آیت په پای کې د هغه د ورته او همنومي د نشتوالي پوښتنه د الله تعالی د ځانګړې مقام او کمال پر معنا ټینګار کوي.

نو دا آیت د توحید د درېیو برخو لپاره یو جامع دلیل دی :لومړی د الله تعالی ربوبیت بیانوي، بیا د هغه د عبادت امر کوي، او په پای کې د هغه بېساریتوب او بېسیالهوالی څرګندوي.

له همدې امله علماوو د قرآن کریم د پراخو دلایلو د استقرا له مخې د توحید دغه درې اړخونه په مستقلو علمي برخو کې تنظیم کړي دي) .۵(

شپږم بحث :د توحید درې مشهور ډولونه او د هر یوه تعریف:

د توحید د عمومي حقیقت له پېژندلو وروسته، د دې درېیو ډولونو لنډ تعریفونه هم اړین دي، څو د راتلونکو تفصیلي بحثونو لپاره بنسټ جوړ شي.

الف ـ توحید ربوبیت

شیخ ابن عثیمین رحمه الله د توحید ربوبیت تعریف داسې بیانوي:

تَوْحِيدُ الرُّبُوبِيَّةِ :إِفْرَادُ اللَّهِ تَعَالَى بِالْخَلْقِ وَالْمُلْكِ وَالتَّدْبِيرِ.

ژباړه :توحید ربوبیت دا دی چې الله تعالی په پیدایښت، مالکیت او تدبیر کې یوازینی وګڼل شي) .۳(

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په دې تعريف کې درې اساسي معناوې راغلې دي:

١ ـ پيدايښت :د ټولو مخلوقاتو خالق يوازې الله تعالى دى.

٢ ـ مالکيت :د ټولو کايناتو حقيقي او مطلق مالک يوازې الله تعالى دى.

٣ ـ تدبير :د کايناتو د چارو خپلواک تدبير او اداره يوازې د الله تعالى په واک کې ده.

د دې ډول توحيد له مخې الله تعالى د ټولو مخلوقاتو خالق، مالک، روزي ورکوونکى، ژوند ورکوونکى، مرګ ورکوونکى او د کايناتو مدبر دى.

الله تعالى فرمايي:

اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ.

ژباړه :الله د هر شي پيدا کوونکى دى او هغه پر هر شي ساتونکى او کارساز دى) .الزمر :٦٢(

په دې آيت کې الله تعالى په ځرګنده توګه ځان د ټولو شيانو خالق معرفي کوي .يعنې د اسمانونو، ځمکې، انسانانو، حيواناتو او ټولو مخلوقاتو خالق يوازې الله تعالى دى .هېڅ مخلوق په خپل ذات کې د پيدايښت خپلواک واک نه لري.

د دې ټولو خالق يوازې او يوازې الله تعالى دى.

الله تعالى فرمايي:

أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ.

ژباړه :خبر اوسئ !پيدا کول او امر کول يوازې د هغه دي .ډېر برکتناک دى الله، چې د ټولو عالمونو پالونکى دى) .الأعراف :٥٤(

دا آيت د الله تعالى د خالقوالي ترڅنګ د هغه د امر او تدبير واک هم بيانوي .د کايناتو پيدايښت، اداره او تدبير د هغه په واک کې دي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ب ـ توحيد الوهيت

شيخ ابن عثيمين رحمه الله د توحيد الوهيت تعريف داسې بيانوي:

تَوْحِيدُ الْأُلُوهِيَّةِ :إِفْرَادُ اللَّهِ تَعَالَى بِالْعِبَادَةِ.

ژباړه :توحيد الوهيت دا دی چې الله تعالی په عبادت کې يوازينی وګڼل شي) .۳(

يعنې د عبادت ټول ډولونه يوازې الله تعالی ته ځانګړي شي؛ لکه دعا، لمونځ، سجده، نذر، قرباني، عبادتي توکل، وېره، هيله او د عبادت نور ډولونه. د دې ډول توحيد اساسي حقيقت دا دی چې الله تعالی د عبادت يوازينی مستحق دی او هېڅ پيغمبر، فرښته، ولي يا بل مخلوق د عبادت حق نه لري.

الله تعالی فرمايي:

وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ.

ژباړه :او ستاسو معبود يو معبود دی؛ له هغه پرته بل هېڅ د عبادت وړ معبود نشته؛ هغه ډېر مهربان او رحم کوونکی دی) .البقرة :١٦٣

د دې آيت پيغام دا دی چې د عبادت حق يوازې د الله تعالی دی؛ ځکه هغه په ذات، صفاتو، واک او کمال کې يوازينی دی .له هغه پرته هېڅوک د عبادت مستحق نه دی.

ج ـ توحيد اسماء او صفات

شيخ ابن عثيمين رحمه الله د توحيد اسماء او صفاتو په اړه ليکي:

تَوْحِيدُ الْأَسْمَاءِ وَالصِّفَاتِ :إِفْرَادُ اللَّهِ تَعَالَى بِمَا سَمَّى وَوَصَفَ بِهِ نَفْسَهُ فِي كِتَابِهِ، أَوْ سَمَّاهُ وَوَصَفَهُ بِهِ رَسُولُهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ژباړه :توحيد اسماء او صفات دا دی چې الله تعالی په هغو نومونو او صفتونو کې يوازينی وګڼل شي چې هغه په خپل کتاب کې د ځان لپاره ثابت کړي دي، يا يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته ثابت کړي دي) .۳(

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د دې تعريف معنا دا ده چې د الله تعالى هغه ښکلي نومونه او بشپړ صفتونه ومنل شي چې په قرآن کريم او صحيح سنتو کې ثابت شوي دي؛ پرته له دې چې د مخلوقاتو په څېر يې وګڼو، معناوې يې تحريف کړو، يا يې بې‌دليله رد کړو.

الله تعالى فرمايي:

وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ ۚ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ.

ژباړه :او د الله لپاره تر ټولو ښکلي نومونه دي؛ نو هغه په همدغو نومونو وبولئ، او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه په نومونو کې کږلاري کوي؛ ژر به د خپلو کړنو بدله وموميِ) .الأعراف :۱۸۰

او فرمايي:

لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ.

ژباړه :د هغه په څېر هېڅ شی نشته، او هغه ښه اورېدونکی او ښه ليدونکی دی) .الشورى :۱۱

دا آيت د الله تعالى د صفتونو په باب يو بنسټيز اصل بيانوي :الله تعالى خپل ثابت صفتونه لري، خو د هغه ذات او صفتونه د مخلوقاتو له ذات او صفتونو سره هېڅ ډول ورته‌والی نه لري.

د بېلګې په توګه، الله تعالى رحمن، رحيم، غفور، سميع، بصير او رزاق دی .مور دا نومونه او صفتونه منو، خو د هغوی حقيقت د الله تعالى له شان سره مناسب دی؛ نه يې د مخلوقاتو په څېر ګڼو او نه يې بې‌دليله ردوو.

اووم بحث :د توحيد د درېيو ډولونو خپلمنځي اړيکه

د توحيد درې واړه ډولونه له يو بل سره ژوره اړيکه لري .د الله تعالى ربوبيت د هغه د الوهيت او عبادت د مستحق‌والي لپاره يو څرګند دليل دی.

الله تعالى فرمايي:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۝ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ژباړه:

اې خلکو !د خپل هغه پالونکي عبادت وکړئ چې تاسو او له تاسو څخه مخکې خلک يې پيدا کړي دي، ښايي پرهېزګاران شئ.

هغه ذات چې ستاسو لپاره يې ځمکه فرش او اسمان يې چت ګرځولی دی، له اسمانه يې اوبه راکوزې کړې دي او په هغو اوبو يې ستاسو د روزۍ لپاره بېلابېلې مېوې راايستلې دي؛ نو له الله سره سيالان مه جوړوئ، په داسې حال کې چې تاسو پوهېږئ) .البقرة :٢١-٢٢(

د دې آيتونو ترتيب ډېر ژور پيغام لري:

لومړی الله تعالی ټولو انسانانو ته د عبادت امر کوي:

اعْبُدُوا رَبَّكُمُ.

ژباړه :د خپل پالونکي عبادت وکړئ. بيا د عبادت د دې امر دليل بيانوي:

الَّذِي خَلَقَكُمْ.

ژباړه :هغه ذات چې تاسو يې پيدا کړي ياست.

ورپسې د خپلو نعمتونو يادونه کوي :ځمکه يې ستاسو د اوسېدو لپاره برابره کړې، اسمان يې لوړ کړی، باران يې راکوز کړی او د همدې اوبو په وسيله يې ستاسو د روزۍ لپاره مېوې راايستلې دي.

په دې ځای کې د» فَأَخْرَجَ «کلمه ځانګړی اهميت لري؛ ځکه آيت په څرګنده توګه د مېوو راايستل الله تعالی ته منسوبوي .يعنې باران يوازې يوه طبيعي پېښه نه ده؛ بلکې الله تعالی د باران د راکوزولو او د هغه په وسيله د روزۍ د راايستلو خالق او مدبر دی.

امام طبري رحمه الله د دې آيتونو په تفسير کې د الله تعالی د خالقوالي او نعمتونو يادونه د هغه د عبادت له امر سره تړلې بولي) .٦(

د آيتونو په پای کې فرمايي:

فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا.

ژباړه :له الله تعالی سره سيالان او شريکان مه جوړوئ.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نو د آيتونو عمومي پيغام دا دی :هغه ذات چې تاسو يې پيدا کړي ياست، ستاسو لپاره يې د ژوند وسايل برابر کړي، باران يې راکوز کړی او ستاسو روزي يې پيدا کړې ده، يوازې هماغه د عبادت مستحق دی.

له همدې امله د الله تعالی ربوبيت بايد د هغه د عبادت او بندګۍ لامل شي.

اتم بحث :يوازې د الله تعالی په خالقوالي اعتراف د توحيد لپاره بسنه نه کوي

يوه مهمه عقيدوي مسئله دا ده چې يوازې د الله تعالی په خالقوالي، مالکيت او روزي ورکولو اعتراف د توحيد د بشپړ تحقق لپاره بسنه نه کوي؛ بلکې بايد عبادت هم يوازې هغه ته ځانګړی شي.

الله تعالی فرمايي:

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ.

ژباړه :او که له هغوی وپوښتې چې اسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي دي او لمر او سپوږمۍ يې تابع کړي دي، خامخا به ووايي :الله؛ نو بيا دوی څنګه له حق څخه اړول کېږي؟) العنکبوت :٦١(

دا آيت څرګندوي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زمانې مشرکانو هم منله چې د اسمانونو او ځمکې خالق الله تعالی دی؛ خو د دې اعتراف باوجود يې د عبادت په برخه کې له الله سره نور شريکان نيولي وو.

له همدې امله قرآن کريم يوازې د خالقوالي پر اعتراف بسنه نه کوي، بلکې انسانان د عبادت د ځانګړي کولو غوښتنه هم کوي.

د دې خبرې علمي پايله دا ده چې توحيد يوازې د دې خبرې منل نه دي چې الله تعالی خالق دی؛ بلکې د هغه د عبادت حق بايد هم يوازې هغه ته ورکړل شي.

نهم بحث :شرک څه دی؟ علمي تعريف، حقيقت او خطر

د توحيد ضد او مخالف عمل شرک دی .شرک د الله تعالی په هغو حقونو او ځانګړتياوو کې د بل چا شريک ګڼلو ته ويل کېږي چې يوازې د هغه حق دي؛ په ځانګړې توګه په عبادت کې بل څوک ورسره شريکول.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله په الوهيت کې د شرک تعريف داسې بيانوي:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

الشِّرْكُ فِي الْإِلَهِيَّةِ هُوَ :أَنْ يَجْعَلَ لِلَّهِ نِدًّا، أَيْ مِثْلًا، فِي عِبَادَتِهِ أَوْ مَحَبَّتِهِ أَوْ خَوْفِهِ أَوْ رَجَائِهِ أَوْ إِنَابَتِهِ.

ژباړه :په الوهیت کې شرک دا دی چې انسان د الله تعالی لپاره په عبادت، مینه، وېره، هیله یا ورګرځېدو کې بل څوک سیال او ورته وګڼي) .۷(

ابن تیمیه رحمه الله د ربوبیت په برخه کې هم د شرک بڼه بیانوي او څرګندوي چې څوک د الله تعالی پر ځای بل څوک په خپلواک ډول د ګټې او زیان، ورکړې او منع کولو، عزت او ذلت د واک څښتن وګڼي، د الله تعالی په ربوبیت کې یې شریک کړی دی) .۷(

له دې څرګندونو څخه د شرک عمومي حقیقت داسې روښانه کېږي:

شرک دا دی چې د الله تعالی په ربوبیت، الوهیت، یا د هغه په ځانګړو نومونو او صفتونو کې بل څوک ورسره شریک وګڼل شي، یا د عبادت کوم ډول د الله تعالی پر ځای بل چا ته ځانګړی شي.

د شرک ځینې بېلګې:

د الله تعالی پر ځای د بل چا عبادت کول.

د عبادت دعا او فریاد داسې مخلوق ته کول چې د عبادت په ډول ورڅخه مرسته غوښتل کېږي.

د الله تعالی پر ځای بل چا ته نذر یا قرباني کول.

بل څوک د الله تعالی په څېر د کایناتو خپلواک خالق یا مدبر ګڼل.

د الله تعالی ځانګړي علم، قدرت او نورو صفتونو کې بل څوک د هغه برابر ګڼل. البته د شرعي اصطلاحاتو په تطبیق کې باید د عادي انساني مرستې او عبادتي غوښتنې ترمنځ توپیر وشي .له ژوندي او حاضر انسان څخه د هغه په وس کې د یوې عادي مرستې غوښتل د عبادت په معنا دعا نه ده .د شرک حکم باید د عمل د حقیقت او شرعي دلیل له مخې وڅېړل شي.

الله تعالی فرمایي:

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ژباړه :بېشکه الله دا نه بښي چې له هغه سره شرک وشي، او له دې پرته نور ګناهونه هغه چا ته بښي چې وغواړي؛ او څوک چې له الله سره شرک وکړي، نو یقیناً یې ستره ګناه جوړه کړې ده) .النساء :۴۸(

د دې آیت معنا دا ده چې که څوک له شرک پرته له دنیا لاړ شي، نو د الله تعالی تر مشیت لاندې دی؛ الله یې بښلی شي او یا یې د ګناه په اندازه سزا ورکولی شي .خو څوک چې په شرک کې مړ شي او له هغه څخه توبه ونه باسي، د قرآن کریم د دې څرګند بیان له مخې د بښنې وړ نه دی.

لقمان حکیم خپل زوی ته د شرک د خطر په اړه داسې نصیحت کوي:

يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ.

ژباړه :اې زما زویه !له الله سره شرک مه کوه؛ بېشکه شرک ډېر لوی ظلم دی) .لقمان :۱۳

شرک ځکه لوی ظلم دی چې د عبادت هغه حق چې یوازې د الله تعالی دی، بل چا ته ورکول کېږي.

الله تعالی د توبې دروازه هم پرانیستې پرېښې ده او فرمایي:

قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ.

ژباړه :ووایه :اې زما هغو بندګانو چې پر خپلو ځانونو مو زیاتی کړی دی !د الله له رحمته مه ناهیلي کېږئ؛ بېشکه الله ټول ګناهونه بښي؛ یقیناً هماغه ډېر بښونکی او ډېر مهربان دی) .الزمر :۵۳

دا آیت د توبې او بېرته الله تعالی ته د ورګرځېدو ستره هیله راکوي .څوک چې له هرې ګناه، حتی له شرک څخه، د ژوند په حال کې رښتینې توبه وباسي، الله تعالی د هغه توبه قبلوي.

خو د شرک د حکم په بیان کې باید یو مهم احتیاط هم مراعات شي :د شرکي وینا یا عمل د حکم بیانول او پر یوه مشخص شخص د کفر حکم کول یو شان نه دي .د مشخص شخص په اړه د حکم لپاره د شرعي شرایطو، د موانعو او د علماوو د علمي اصولو رعایت اړین دی .دا کار د هر چا د شخصي پرېکړې موضوع نه ده.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لسم بحث :د توحيد عملي او ايماني اغېزې

توحيد يوازې يو نظري بحث نه دی چې انسان يې په ذهن کې ومني او بس؛ بلکې د انسان پر عقيده، اخلاقو، عبادت، چلند او د ژوند پر ټولو برخو اغېز لري.

د توحيد ځينې مهمې اغېزې دا دي:

١ ـ له الله تعالی سره د اړيکې پياوړتيا :د توحيد خاوند پوهېږي چې د هغه خالق، مالک او پالونکی يوازې الله تعالی دی؛ نو په دعا، عبادت او اړتياوو کې يوازې هغه ته رجوع کوي.

٢ ـ له شرک او خرافاتو څخه ژغورنه :څوک چې د توحيد حقيقت وپېژني، د عبادت حق هېڅ مخلوق ته نه ورکوي او د باطلو عقايدو او بې‌اساسه باورونو څخه ځان ساتي.

٣ ـ په عبادت کې اخلاص :د توحيد غوښتنه دا ده چې لمونځ، دعا، نذر، قرباني او نور عبادتونه يوازې د الله تعالی لپاره ترسره شي.

۴ ـ پر الله تعالی توکل :مؤمن پوهېږي چې اسباب کاروي، خو د پايلو خالق او واکمن الله تعالی دی؛ نو پر اسبابو د خپلواک واک په توګه تکيه نه کوي، بلکې خپل زړه پر الله تعالی ترې.

۵ ـ له خلکو څخه د بې‌ځايه وېرې او تمې کمېدل :د توحيد خاوند پوهېږي چې د ګټې او زيان خپلواک واک يوازې د الله تعالی دی؛ نو د خلکو د خوښۍ لپاره د الله تعالی نافرماني نه کوي.

٦ ـ د الله تعالی د نومونو او صفتونو پېژندنه :کله چې انسان د الله تعالی ښکلي نومونه او صفتونه وپېژني، د هغه مينه، وېره، هيله او د هغه پر رحمت باور يې پياوړی کېږي.

٧ ـ په ژوند کې د بندګۍ احساس :د توحيد خاوند خپل ژوند يوازې د دنيا د ګټو لپاره نه تېروي، بلکې د الله تعالی رضا، د هغه اطاعت او د آخرت بريا خپل هدف ګرځوي.

دا اغېزې څرګندوي چې توحيد د انسان د ژوند له هر اړخ سره تړاو لري او د هغه د اصلاح او نېکمرغۍ بنسټ جوړوي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پایله

گرانو لوستونکو!

له دې بحثونو څخه مو زده کړل چې توحید د اسلامي عقیدې بنسټ دی، د ټولو پیغمبرانو د دعوت محور دی او د انسان د پیدایښت له سترو موخو څخه دی.

توحید یوازې د الله تعالی په خالق‌والي او مالکیت اعتراف نه دی؛ بلکې د هغه د عبادت ځانګړي کول او د هغه د ښکلو نومونو او صفتونو منل هم پکې شامل دي.

د قرآن کریم د آیتونو او د علماوو د استقرایي څېړنې له مخې د توحید درې مشهور ډولونه بیان شوي دي : توحید ربوبیت، توحید الوهیت او توحید اسماء او صفات .دا درې واړه برخې د توحید د حقیقت د پوهېدو او تدریس لپاره یو له بل سره تړلي اړخونه دي.

په دې برخه کې مو د دغو ډولونو عمومي پېژندنه او تعریفونه وړاندې کړل؛ خو د هر یوه تفصیلي دلایل، د قرآن کریم اړوند آیتونه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث او د علماوو څرګندونې به په راتلونکو برخو کې په جلا او منظم ډول وڅېړو.

له الله تعالی څخه غواړو چې موږ ته د توحید د حقیقت د سمې پېژندنې، د هغه د غوښتنو د عملي کولو او له هر ډول شرک څخه د ځان ساتلو توفیق راکړي.

آمین یا رب العالمین.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سرچينې او حوالې

١ - ابن فارس، أحمد بن فارس بن زكريا، معجم مقاييس اللغة، ماده» :وحد«، ج ٦، مخ ٩١.

٢ - ابن منظور، محمد بن مكرم، لسان العرب، ماده» :وحد«؛ د» والتوحيد الإيمان بالله وحده لا شريك له «عبارت.

٣ - ابن عثيمين، محمد بن صالح، شرح ثلاثة الأصول، د توحيد د تعريف او ډولونو بحث، مخونه ٣٨-٤٠؛ دار الثريا للنشر، څلورم چاپ، ١٤٢٤هـ.

٤ - ابن القيم، محمد بن أبي بكر، إعلام الموقعين عن رب العالمين، ج ١، مخ ٤٠؛ د طاغوت د تعريف بحث.

٥ - الشنقيطي، محمد الأمين، أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن، ج ٣، مخ ١٧؛ د توحيد د درېيو ډولونو د استقرايي وېش بحث.

٦ - الطبري، محمد بن جرير، جامع البيان عن تأويل آي القرآن، د سورة البقرة د ٢١ او ٢٢ آيتونو تفسير.

٧ - ابن تيمية، أحمد بن عبد الحليم، مجموع الفتاوى، ج ١، مخ ٩١؛ د شرك في الألوهية او شرك في الربوبية بحث.

٨ - البخاري، محمد بن إسماعيل، الجامع الصحيح، حديث :٢٨٥٦؛ او مسلم بن الحجاج، الصحيح، كتاب الإيمان، حديث :٣٠

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish